


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 20 اکتوبر 2014 م

# اى مسلمانه وروره!

اى وروره
ته بيا هماغه
پوښتنې راسپړې
خو زه وايم
بس يو انسان يم
ګوره
نه تور نه سپين
نه پښـــــــتون
نه تاجک
بس يو انسان يم
زه د پلار دلاس اعصا
ته د مور نازولى زوى
ګوره دوه سترګې ستا
ګوره دوه سترګې زما
دوه لاسونه ستا
دوه لاسونه زما
ته بيا هماغه
پوښتنې را سپړې
خو زه وايم
بس يو انسان يم
ګوره
يو شان فـــــکر
يو شان ذکـــــر

**یو شان خندا**
**یو شان ژړا**
**ته بیا هماغه**
**پوښتني را سپرې**
**خو زه وایم**
**بس یو انسان یم**
**ګوره**
**ته په وربښمینو بالښتونو سرږدی**
**زه یې په پختو**
**ګوره**
**ته په لاس خواړه خورې**
**زه هم په لاس خواړه خورم**
**فرق دومره دی**
**چې ته په زرینو لوښو کې**
**خواړه خوری**
**زه یې د ختو په لوښو کې**
**ته د سره زرو په جامنو اوبه څکې**
**زه یې په لپه دمنګی له خولی څکم**
**ته بیا هماغه**
**پوښتني را سپرې**
**خو زه وایم**
**بس یو انسان یم**
**ګوره**
**زه او ته ازاد خلق شوې یو**
**راځه نور ما مه وژنه**
**خیر زه تاته غاړه ږدم**
**ته یو آزاد باز**
**زه یوآزاده توتکی**
**ته د غره دسرشاهین**
**زه د ځمکی د سرمیږی**
**زه تا له هراړخه جیګ ګڼم**
**خو ګوره**
**ته بیا هماغه**
**پوښتني را سپرې**
**خو زه وایم**
**بس یو انسان یم**

****

**مجیب الرحمن « خطیبي »**
**27/07/1393**

**بازګشت به صفحه اصلی –www.said-afghani.org**